امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و نشرات

هفته نامه
مدیریت حوادث

۸ الی ۱۳ قوس ۱۴۰۴

شماره یکصدو سی و سوم

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د اروپايي ټولنې د ملکي ساتنې او بشري مرستو د عملياتو (ECHO) له لوی رئيس سره وکتل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئيس، محترم الحاج ملا نورالدين ترابي، له ښاغلي اندرياس پاپاکونستانتينو، د اروپايي ټولنې د ملکي ساتنې او بشري مرستو د عملياتو (ECHO) له لوی رئيس، په افغانستان کې د اروپايي اتحاديې له شارژدافيرې، ويرونيکا بوسکوويچ پوهر، د افغانستان څانګې له مشر ساکلاريس هورداس او د ECHO دفتر له مشر فرانسوا ګومنس سره د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۳ نېټه وکتل او خبرې يې وکړې.

محترم ترابي صاحب اروپايي پلاوي د ښه راغلاست ترڅنګ وويل، چې زموږ بشري ديپلوماسي دا ايجابوي چې له ټولو بنسټونو سره ښې...

ادامه در صفحه۲

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئيس په افغانستان کې د ژغورنې نړيوالې کمېټې له رئيسې سره وکتل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئيس، محترم الحاج ملا نورالدين ترابي، د ژغورنې نړيوالې کمېټې(IRC) له رئيسې، آغلې شيرين حسن ابراهيم سره چې د مخه ښې لپاره راغلې وه، د ۱۴۴۷ کال د جمادی...

ادامه در صفحه ۳

د پېښو چارو د همغږۍ معين د جوزجان ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رياست څخه ليدنه او څارنه وکړه او د ولايت له والي سره يې وکتل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د پېښو چارو د همغږۍ معين، محترم الحاج ملا عبدالولي څارنوال (حاجي وارث)، د يو تخنيکي، فني او مسلکي پلاوي په مشرۍ، د هېواد ولايتونو ته د رسمي سفر په دوام، د لغمان...

ادامه در صفحه۴

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د بشري مرستو د همغږۍ مؤسسې ترمنځ د (۱,۶۲,۳۸۳) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاريو تفاهم نامه لاسليک سوه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئيس الحاج ملا نورالدين ترابي د بشري مرستو د همغږۍ مؤسسې د اجرايوي رئيس انجينر عبدالبصير حقمل سره د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۲ نېټه وکتل...

ادامه در صفحه ۵

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د اروپايي ټولنې د ملکي ساتنې او بشري مرستو د عملياتو (ECHO) له لوی رئيس سره وکتل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئيس، محترم الحاج ملا نورالدين ترابي، له ښاغلي اندرياس پاپاکونستانتينو، د اروپايي ټولنې د ملکي ساتنې او بشري مرستو د عملياتو (ECHO) له لوی رئيس، په افغانستان کې د اروپايي اتحاديې له شارژدافيرې، ويرونيکا بوسکوويچ پوهر، د افغانستان ځانګې له مشر ساکلاريس هورداس او د ECHO دفتر له مشر فرانسوا ګومنس سره د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۳ نېټه وکتل او خبرې يې وکړې.

محترم ترابي صاحب اروپايي پلاوي د ښه راغلاست ترڅنګ وويل، چې زموږ بشري ديپلوماسي دا ايجابوي چې له ټولو بنسټونو سره ښې اړيکې ولرو. همدې موخې ته په کتو موږ مرستندويو ادارو ته د دوو اصلونو چټکتيا او شفافيت پر بنسټ ټولې اسانتياوې برابرې کړې دي. نوموړي د ادارې د کاري جريان د تشريح کولو پر مهال زياته کړه چې زموږ مشوره تاسو او ټولو مرستندويه ادارو ته دا ده، چې د بشري مرستو تر څنګ، بنسټيزو او وقايوي پروژو ته لومړيتوب ورکړئ؛ ځکه وقايه تل کم لګښت لري. زموږ انجنيرانو ټولې زيانمنې سيمې چې د پروژو د پلي کېدو اړتيا لري، په نښه کړي او که اړتيا وي، تاسو ته به درکړل شي. ترابي صاحب وويل چې موږ پرته له قومي، مذهبي، سمتي او جنسيتي توپير څخه، خلکو ته خدمات وړاندې کوو، او دا موضوع د مؤسسو سره په عملي همکارۍ کې ثابته شوې ده.

په همدې حال کې، د اروپايي ټولنې د ملکي ساتنې او بشري مرستو د عملياتو (ECHO) لوی رئيس، ښاغلي اندرياس پاپاکونستانتينو وويل چې موږ د خپلو همکارانو له لارې ستاسو د جديت، چټکتيا او عملي همکارۍ څخه خبر يو، او د همدې لپاره لومړی ستاسو ليدو ته راغلي يو. هغه وويل چې ECHO د افغانستان لپاره ځانګړی بوديجه لري، او دا په دې مانا ده چې موږ دلته حضور لرو او پر خپله ژمنه چې د ولس ترڅنګ ودرېږو، ولاړ يو.

ښاغلي اندرياس زياته کړه چې موږ د پېښو د مديريت، د پېښو پر وړاندې د ځواب وينې او د ماين‌پاکۍ په برخه کې ګډې موخې لرو، او د چټکتيا او شفافيت په برخه کې هم ګډ کار کوو. نوموړي وويل چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې له لوري زموږ همکارانو ته د اړينو اسانتياوو له برابرېدو سره، د ECHO ژمنې په افغانستان کې هېڅ بدلون نه دی کړی او هيله‌مند يو چې د دواړو بنسټونو ترمنځ دوه اړخيزې همکارۍ لا پياوړې شي. په پای کې، دواړو لوريو هغه ډالۍ چې د يو بل لپاره يې په پام کې نيولې وې، يو بل ته ورکړې.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس په افغانستان کې د ژغورنې نړیوالې کمېټې له رئیسې سره وکتل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د ژغورنې نړیوالې کمېټې(IRC) له رئیسې، آغلې شیرین حسن ابراهیم سره چې د مخه ښې لپاره راغلې وه، د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۳ نېټه په خپل کاري دفتر کې وکتل.

په دې ناسته کې محترم ترابي صاحب د یادې کمېټې له فعالیتونو په ځانګړي ډول د آغلې ابراهیم له هڅو قدرداني وکړه او ویې ویل چې د افغانستان خلک ستاسو له ملاتړ څخه برخمن شوي دي، ځکه تاسو خپل کار په صداقت سره ترسره کړی دی. نوموړي د دې تر څنګ چې د مرستندویه ادارو لپاره یې د اسانتیاوو د برابرېدو یادونه وکړه، ویې ویل کله چې تاسو په بله دنده یا په بل هېواد کې موظفه شوئ، ټه لرو چې د افغانستان اوسنی وضعیت او په ځانګړي ډول له مرستندویه ادارو څخه زموږ ملاتړ په رښتینې بڼه انعکاس کړئ.

ورته مهال آغلې شیرین حسن ابراهیم، چې د مصر هیواد اوسېدونکې ده، د موسسو د فعالیتونو په برخه کې په ځانګړي ډول د IRC د ملاتړ له امله له ترابي صاحب څخه مننه وکړه او ویې ویل چې ستاسو همکاري دا زمینه برابره کړه چې IRC وتوانېده په هرات کې د کډوالو لپاره ۱۲۰ خیمې نصب کړي او په کونړ کې ۲۵۰۰ کورنیو ته نغدې مرستې ووېشي، چې دا زموږ د فعالیتونو یوه بېلګه ده او ستاسو په ملاتړ ترسره شوې ده.هغې ټینګار وکړ چې د ژغورنې په نړیواله کمېټه کې زموږ همکاران ژمن دي ترڅو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سره خپلو همکاریو ته دوام ورکړي.

همدا ډول د IRC د رئیسې د غوښتنې په ځواب کې، چې له تایوان څخه د ژمنیو مرستو د انتقال، په بادغیس کې د نغدو مرستو د دوهم پړاو د پلي کولو او د دې مؤسسې د ښځینه روغتیایي ټیم د ستونزې د حل په اړه یې وکړه، محترم لوی رئیس صاحب وویل چې د مرستو د انتقال، د نغدو مرستو د پروژې د پلي کولو او د یادې موسسې د روغتیایي ټیم د ستونزو د حل لپاره به له اړوند مسؤولینو سره د خبرو له لارې لازمه هڅه وشي.

آغلې ابراهیم په دوام کې وویل چې خواشینې یم چې نن د افغانستان له خلکو سره خدای پاماني کوم؛ خو ژمنه کوم چې له خپلو افغان خوېندو او وروڼو څخه به خپل ملاتړ ته له هرې ممکنې لارې دوام ورکړم.

په پای کې د ادارې لوی رئیس صاحب د آغلې ابراهیم د خدماتو د قدردانۍ په توګه یوه ډالۍ هغوی ته ورکړه.

د پېښو چارو د همغږۍ معین د جوزجان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه لیدنه او څارنه وکړه او د ولایت له والي سره یې وکتل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري د پېښو چارو د همغږۍ معین، محترم الحاج ملا عبدالولي څارنوال (حاجي وارث)، د یو تخنیکي، فني او مسلکي پلاوي په مشرۍ، د هېواد ولایتونو ته د رسمي سفر په دوام، د لغمان، نورستان، کونړ، ننګرهار، بامیان، غور، دایکندي، میدان وردګ، لوګر، پکتیا، پکتیکا، خوست، غزني، زابل، کندهار، ارزګان، هلمند, نیمروز، فراه، هرات، بادغیس، فاریاب او سرپل ولایتونو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو د کاري بهیر له څارنې وروسته، د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۲ نېټه جوزجان ولایت ته ورسېد.

په پیل کې، د پېښو چارو د همغږۍ محترم معین، د جوزجان ولایت له والي، محترم الحاج قاري ګل حیدر شفق سره د دې ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، محترم مولوي سراج الدین سراج په شتون کې وکتل.

دا ناسته د قرآن عظیم الشان د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.

د پېښو چارو د همغږۍ محترم معین د نورو ولایتونو د سفرونو یادونه وکړه او د سفر موخه یې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو د عمومي وضعیت څېړل، د اسلامي امارت د عالي مقام مشرتابه د فرمانونو او لارښوونو د پلي کېدو څارنه، د مالي او اداري چارو ارزونه، د هوکړه لیکونو د پلي کېدو څارنه، د وقایوي پروژو، د بشردوستانه مرستو د وېش، د ماین پاکۍ او د نشراتي چارو څېړنه او د ستونزو او وړاندیزونو اورېدل یاده کړه.

هغه ټینګار وکړ چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداره ژمنه ده، چې د خپلو قانوني صلاحیتونو او د دندو په چوکاټ کې به د وقایوي پروژو د پلي کېدو، د زیانمنو بېړنیو اړتیاوو د پوره کولو او د طبیعي پېښو او خطرونو د مدیریت د ښه والي په برخه کې هر اړخیزه همکاري وکړي.

وروسته محترم والي صاحب، د ښه راغلاست ویلو او زیانمنو ته د رسېدنې په برخه کې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري له هڅو څخه د قدردانۍ ترڅنګ د دې ولایت زیانمنتیا ته په اشارې سره وویل چې د جوزجان خلک د طبیعي پېښو له امله په لوړه کچه زیانمن دي او بشردوستانه مرستو او وقایوي پروژو ته اړتیا لري.

په پای کې، محترم شفق صاحب له دې بهیر څخه د خوښي په څرګندولو سره زیاته کړه، چې د دویمو واحدونو له چارو څخه څارنه او څېړنه د حکومتولۍ یو مهم اصل دی او د هر ډول همکارۍ ژمنه یې وکړه.

ورپسې، یاد پلاوي د جوزجان ولایت له پېښوسره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه لیدنه وکړه او د یاد ریاست کاري بهیر یې له نږدې وڅاره. په دې لیدنه کې، د پېښو چارو د همغږۍ معین له کارکوونکو سره خبرې وکړې د هغوی ستونزې او وړاندیزونه یې واورېدل او د اسنادونو او فعالیتونو تر ارزونې وروسته یې هغوی ګړندي، پر وخت او اغېزمنو خدمتونو ته وهڅول.

د یادونې وړ ده، چې یاد پلاوي په دې ریاست کې خپل څارنیز او لارښوونکی بهیر پیل کړ.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د بشري مرستو د همغږۍ مؤسسې ترمنځ د (۱,۶۲,۳۸۳) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک سوه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس الحاج ملا نورالدین ترابي د بشري مرستو د همغږۍ مؤسسې د اجرایوي رئیس انجینر عبدالبصیر حقمل سره د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۲ نېټه وکتل.

محترم ترابي صاحب په خپلو خبرو کې راغلي پلاوي ته ښه راغلاست ووایه او زیاته یې کړه چې د ژمي په رارسیدو سره باید ټول مؤسسات ژمنۍ مرستې ژر تر ژره تر خلګو ورسوي ترڅو زیاتمني کورنۍ پر وخت د ژمني توکو څخه برخمني سي.

همد راز محترم ترابي صاحب یادونه وکړه که مرسته لږ وي یا ډیره خو باید اساسي وي او اړمنو کورنیو ته پر وخت ورسیږي.

وروسته د بشري مرستو د همغږۍ مؤسسې اجرایوي رئیس انجینر عبدالبصیر حقمل د محترم ترابي صاحب څخه ځانګړې مننه وکړه چې وخت یې ورکړ او زیاته یې کړه چې یادې ادارې تل زموږ سره همکاري کړې ده او موږ هم تل کوښښ کوو چې خلګو ته مرستې ورسوو.

دیادوني وړ ده یاده تفاهم نامه چې لاسلیک سوه، له مخې به یې د پکتیکا ولایت په دیله او دایکندي ولایت په پاتو ولسوالیو کې (۷۰۰۰) کورنیو ته د د حفظ الصحي بستې ویشل، (۷۰۰۰) کورنیو ته د اوبو د پاکولو درمل ویشل او (۷۰۰۰) کورنیو ته د کولرا ناروغۍ په اړه عامه پوهاوې ورکول.

له پېښو سره د مبارزې امادګۍ ملي ادارې (۱۴) تنه کارکونکو ته د اغاخان پراختیایي شبکې لخوا یو ورځنۍ د پلټني او ژغورني تر عنوان لاندې عملي ورکشاپ ورکړل سو

د کابل ولایت د پغمان ولسوالۍ اړوند قرغې بند کې د دې ادارې کارکونکو ته د اغاخان پراختیایي شبکې لخوا د پلټني او ژغورني تر عنوان لاندې (۱) ورځنۍ ورکشاپ د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۳ نېټه ورکړل سو.

د غونډې په پیل کې د دې ادارې د کارکونکو چارو ریاست اړوند د طرفیت لوړوني امر نوراغا صاحبزاده د اغاخان پراختیایی شبکې د ټولو مسؤلینو څخه مننه وکړه چې تل یې اوږه په اوږه د دې ادارې سره په هره برخه کې کار کړی دی.

په ورستیو کې د یاد ورکشاپ استاد ښاغلي پیار علي وویل چې یاد ورکشاپ ډېر مهم و او ټول کارکونکي باید تر لاسه سوي معلومات او عملي درسونه د نورو کارکونکو سره شریک کړي.

ورسته د یاد ورکشاپ ټولو ګډنوالو د اغاخان پراختیایي شبکې د مسلکي استادانو لخوا عملي درسونه له وړاندې کولو څخه مننه وکړه او ټولو کارکونکو ژمنه وکړه چې ټول زده سوي عملي درسونه په ښه ډول تر نورو ورسوي.

دیادوني وړ ده چې یاد ورکشاپ کې کارکونکو ته په اوبو(سیند) کې د ډوب سوي انسان د ژغورلو، موټر او نورو شیانو د پیدا کولو مهارتونه ور زده کړل سول.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئیس, د افغانانو لپاره د بشري او پرمختیايي مرستو د همغږۍ اداري او یو شمېر نړیوالو او داخلي مرستندویو مؤسسو له مسؤلینو سره وکتل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئیس، الحاج ملا نورالدین ترابي، د افغانانو لپاره د بشري او پرمختیايي مرستو د همغږۍ اداري د مرستیال حمیدالله احمدي، د ناروې کمیټې د لوی رئیس، ښاغلي تاریا واټرډال او د بیلابیلو نړیوالو او داخلي مؤسسو له مسؤلینو سره د دې اداري د نړیوالو اړیکو د رئیس, مولوي عبدالرحمن رحماني په شتون کې د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۹ نېټه وکتل او د پېښو مدیریت اړوند پر موضوعاتو یې خبرې وکړې.

ترابي صاحب د ټولو همکارو مؤسسو مسؤلینو ته ښه راغلاست ووایه او د دې اداري د فعالیتونو، لاسته راوړنو او راتلونکو پلانونو په اړه معلومات وړاندې کړل او ټینګار یې وکړ چې د مؤسسو ترمنځ منظمه همغږي کولای سي چې د بشري او پرمختیايي خدمتونو کیفیت او پایله لا پیاوړې کړي او په ځانګړي ډول زیانمنو کورنیو ته ژر مرستي ورسوي.

همدا راز ترابي صاحب زیاته کړل چې دا اداره په خپلو ټولو برخو کې کار او خدمت ته ژمنه ده، موږ او تاسو باید افغان ولس ته د خوراکي او غیر خوراکي توکو تر څنګ وقایوي پروژې هم پلي کړو تر څو په لږ مصرف د ډېر زیان مخه ونیسو او موږ ټولو مؤسیسو ته پوره ډاډ ورکوو چې ستاسو کارونه په هره اداره یا ولایت کې پاته وي موږ د اصولو په چوکاټ کې درسره همکاره یو.

ورسته د ټولو ګډونوالو مؤسیسو په استازیتوب د افغانانو لپاره د بشري او پرمختیايي مرستو د همغږۍ مرستیال ښاغلي حمیدالله احمدي د یادي اداري د لوی رئیس او ټول کاري ټیم څخه مننه وکړل او وې وویل چې نړیوالې او داخلي مؤسسې د افغانانو د ملاتړ او د پېښو د مدیریت په برخه کې د یادي اداري له همکارۍ راضي دي او غواړي چې دغه همکاري لا نوره تقویه سي، هغه زیاته کړه چې ګډ پلان، معلوماتي تبادله، او د خطرونو پر ضد وقایوي پروګرامونه د مرستو د ښه تطبیق لپاره بنسټیز ارزښت لري.

وروسته د ناروې کمیټې لوی رئیس، ښاغلي تاریا واټرډال د یادي اداري د ټول کاري ټیم څخه ځانګړې مننه وکړه چې د یادي اداري په کارونو کې پوره شفافیت راغلی دی او موږ د دې اداري سره پوره همغږي لرو.

وروسته د ټولو مؤسسو استازو ژمنه وکړه چې دوی به د افغانانو د ژوند د ښه والي لپاره خپل تخنیکي او عملي ملاتړ دوامدار وساتي.

ناسته د ګډو همکاریو د لا پیاوړتیا، د راتلونکو ګډو پروګرامونو د تنظیم او د عملي چارو د همغږۍ په ټینګار سره پای ته ورسېده.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د دریېو ملي او نړیوالو موسسو ترمنځ ټولټال د (۵۵۰,۳۹۷) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامې لاسلیک شوې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د ماین پاکۍ د پلان د ترتیب موسسې له مرستیال، محمد اکرم امیر، د اکتیډ موسسې له مرستیال، هنس جوهانس او د زرغون لارې موسسې له رئیس، رحمت الله محمدي سره د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۰ نېټه په خپل کاري دفتر کې په جلا جلا ډول وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم نامې یې ورسره لاسلیک کړې.

محترم ترابي صاحب، د موسسو مسؤلینو ته وویل چې زموږ د ولایتي ریاستونو له لوري د موسسو لپاره لازمې اسانتیاوې برابرې شوې دي او موږ تمه لرو چې موسسې هم خپلې پروژې پر وخت او په شفاف ډول پلي کړي. ځکه چې د هوا په سړېدو سره د خلکو ستونزې هم زیاتېږي.

ورته مهال د یادو موسسو مسؤلینو د اداري د لوی رئیس له همکاریو څخه د قدردانۍ ترڅنګ ژمنه وکړه چې پروژې به پر وخت او په شفاف ډول پلي کړي.

د یادونې وړ ده، چې په پای کې له یادو موسسو سره درې مهمې تفاهم نامې لاسلیک شوې چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

۱. د لومړې تفاهم نامې له مخې، چې ټولټال د دوه سوه اتیا زره (۲۸۰,۰۰۰) ډالرو په ارزښت د زرغون لارې له موسسې سره لاسلیک شوه، لاندې فعالیتونه به ترسره شي:

د یادې لاسلیک سوي تفاهم نامې له مخې به د کونړ ولایت په نورګل او څوکی ولسوالیو کې ۱۵ زلزله ځپلو سمیو ته د برق لپاره سولر سیستم نصبول، یاد ستېشنونو نصب او چلوونې ته اماده کول، چې هر ستېشن د ۱۰ کیلواټه بریښنا ظرفیت لري او د ۴۰۰ کورنیو لپاره پاکه او دوامداره انرژي برابروي.

۲. د دویمې تفاهم نامې له مخې، چې ټولټال د یو سل او څلور څلوېښت زره او دوه څلوېښت (۱۴۴,۰۴۲) ډالرو په ارزښت له اکتیډ موسسې سره لاسلیک شوه، لاندې فعالیتونه به ترسره شي:

- لومړې فعالیت: د پروژې د تطبیق ځایونه: د ننګرهار ولایت په دره نور ولسوالۍ او د کونړ ولایت په څوکۍ او نورګل ولسوالیو کې ۶۰۰ زیانمنو کورنیو ته د سرپناه د ځای د ترمیم لپاره لاندې وسایل ورکول کیږي ترپال ، حرارت او رطوبت ضد پلاستیک، پړی، بیلچه، څټک، میخونه، کلنګ، پلاس د لین د کټر سره، دستکشي اره، ګیل ماله، ابترازو، د بسته بندی کڅوړه.

- دوویم فعالیت: ۷۵۵ کورنیو ته د ژمني توکي ویشل چې د ماشومانو بنین، د لویانو نارینه لپاره بنین، د لویانو ښځینه لپاره بنین ، ښځینه د ژمي پټو، نارینه د ژمي پټو، ښځینه د ژمي بوټان، نارینه د ژمي بوټان، ماشومانو د ژمي بوټان، جرابې، د ماشومانو دستکشي، د ماشومانو لپاره د ژمي خولې، بسته بندۍ بیک وویشل سي.

- دریېم فعالیت: ۵۱۲ کورنیو لپاره د اشپزخانې وسایل ویشل چې لاندې اجناس ورکول کیږي د پخلي دیګ، ارکاره، سرپوښ والا دیګ بخار، کاسه، د میز لپاره چاقو، قاشق بنجي، د اشپزخانې چاقو، د پخولو کاشوغه، د خوړو د خوراک کاشوغه، د فولادو صفا کولو لوښي، فلزي چمچه ورته ویشل سي.

- څلورم فعالیت: ۵۲۰ کورنیو ته لاندې توکي ویشل کیږي. توالت کاغذ، ښمنز، د غاښونو کریم، د غاښونو برس، د ځان مینځلو صابون، صابون دانۍ، د مخ د وینښتو د صافولو کریم، ګریزر، صحي ټوکر او ځان پاک ورته وویشل سي.

۳. د دریمې تفاهم نامې له مخې، چې ټولټال د یو سل او شپږ ویشت زره او درې سوه پنځه پنځوس (۱۲۶,۳۵۵) ډالرو په ارزښت د ماین پاکۍ د پلان د ترتیب مؤسسې سره لاسلیک شوه لاندې فعالیتونه به ترسره کیږي:

د پروژې د تطبیق ځایونه د بغلان ولایت په نوي بغلان ولسوالۍ او د کندزولایت په دشت ارچې او چهاردرې ولسوالیو ساحې د ناچودوکو توکو او ماینونو څخه پاکول او خلکو ته عامه پوهاۍ ورکول.

له پېښو سره د مبارزې امادګۍ ملي ادارې او د سبا لپاره د افغانانو مؤسسې تر منځ د (۹۰,۰۰۰) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک سوه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د سبا لپاره د افغانانو مؤسسې د پروګرامونو له مسؤل امان الله وردګ سره د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۱ نېټه په خپل کاري دفتر کې وکتل.

محترم ترابي صاحب د یادي مؤسسې د پروګرامونو مسؤل ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل چې خوښ یو چې نن یو داسې تفاهم نامه لاسلیک کوو چې په هغه سره زیاتمنو او مستحقو کورنیو ته نغدي مرستې رسول کیږي او د یادې مؤسسې د ټول کاري ټیم څخه یې ځانګړې مننه وکړه او وویل چې یادې مرستې باید جاري وساتي ترڅو زیاتمنې کورنۍ مو د خدمتونو څخه برخمن سي.

د یادې مؤسسې د پروګرامونو مسؤل امان الله وردګ له پېښو سره د مبارزې امادګۍ ملي ادارې د لوی رئیس څخه مننه وکړل چې یاده اداره زموږ کارونه بیله ځنډه راته خلاصوي او د یادې ادارې د ټول کار ټیم څخه یې مننه وکړل او ترڅنګ یې وویل چې موږ به ډېر ژر تر شفافې سروې ورسته یادې مرستې د ننګرهار ولایت د دره نور ولسوالۍ زیاتمنو او مستحقو کورنیو ته وویشو.

دیادوني وړ ده چې یاده تفاهم نامه چې لاسلیک سوه، له مخې به یې د ننګرهار ولایت په دره نور کې ۴۴۱ زلزله ځپلو کورنیو نغدي مرستې ویشل کیږي چې هرې کورنۍ ته به (۱۵۰) امریکایي ډالره ورکول سي.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د ماین‌پاکۍ د انسجام او همغږۍ ریاست او د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) ترمنځ د همغږۍ غونډه ترسره شوه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د ماین‌پاکۍ د انسجام او همغږۍ ریاست او د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) ترمنځ د همغږۍ غونډه د ماین پاکۍ د انسجام او همغږۍ رئیس، قاري نورالدین رستم خیل او د یاد دفتر د استازو په ګډون د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۲ نېټه د یاد ریاست د غونډو په صالون کې ترسره شوه.

په غونډه کې د ماین‌پاکۍ پروګرام د تاریخچې، لاسته‌راوړنو، اوسني وضعیت، د ککړو سیمو د پاکولو په بهیر کې د موجودو ستونزو، طرزالعملونو او په پروژو کې د ماین پاکۍ فعالیتونو د الزاماتو په اړه له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې له لوري د متحدالمال لیک په اړه هر اړخیز معلومات وړاندې شول. همدارنګه ټینګار وشو چې د WFP په پروژو کې د ماین‌پاکۍ موضوعات باید لا هم پیاوړي او منسجم شامل شي.

د خوړو نړیوال پروګرام استازو هم د لا زیاتو همکاریو، د ککړو سیمو د پاکولو د بهیر د ښه‌والي او د همغږۍ د پراختیا په تړاو خپلې پوښتنې او وړاندیزونه شریک کړل او د دواړو بنسټونو ترمنځ د همکارۍ پر پراختیا یې ټینګار وکړ.

په پای کې، دواړو خواوو د دوامدارو همکاریو، پر وخت د معلوماتو تبادلې او په ټولو پروژو کې د ماین‌پاکۍ د الزاماتو پر رعایت کولو ټینګار وکړ.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې اوونیزه اداري غونډه ترسره شوه

د وزیرانو شورا د ۱۴۴۳/۵/۱۶نېټې د (۱۵) ګڼې مصوبې د ۱ مادې پر بنسټ، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې اوونیزه اداري غونډه د دې ادارې د سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي په مشرۍ او د مرکزي رئیسانو په ګډون د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۲ نېټه د دې ادارې په انګړ کې ترسره شوه.

غونډه د قران کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.

وروسته د اجنډا په هره موضوع په جلا جلا ډول هر اړخیزه بحث وشو او د غونډې د ګډونوالو نظرونه په وار سره راټول شول.

د غونډې په پای کې داجنډا پر ټولو موضاعوتو باندی لازم تصمیمونه ونیول سول.

د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ۱۲۰ زیاتمنو او کډوالو کورنیو سره د خوراکی او غیری خوراکی توکو مرسته وکړل

د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۷ راستنیدونکو کډوالو او ۱۰۳ کورنۍ زیاتمنو کورنیو ته د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۰ نېټه خوراکي او غیری خوراکي توکې وویشل چې د مرستو د ویش پر مهال دیاد ریاست رئیس مولوی فیض الله جلالی او مسؤلینو په شتون کې توزیع شول او ۳۰ با سواده خلکو ته له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د لاسته راوړنو او خدمتونو معلوماتي بروشر ورکړل شول.

په یادو مرستو کې (۱۷) کورنیو ته چې هرې کورنۍ ته (۱) بورې ۵۰ کیلویی اوړه، (۱) من بوره، (۱) کیلو تور چای، (۱) عدد د یونیسف مؤسسې هایجن کیټ، (۱) عدد د یونیسف مؤسسې ژمنې البسه، (۲) عدده د غذا خوری سیټ، ۲۸ پاکټه کلورین ټابلیت، (۱) جلد د یونیسف مؤسسې د لاس مینځلو لارښود شامل وو، او ۱۰۳ کورنیو ته چې هر کورنۍ ته (۱) بورې ۵۰ کیلویی اوړه، (۵) کیلو بوره، (۱) کیلو تور چای، د اوبو سطل، (۱) عدد د یونیسف مؤسسې د اوبو بوشکه، (۱) جلد د یونیسف مؤسسې د لاس مینځلو لارښود، (۲۸) پاکټه کلورین ټابلیت شامل دي چې وروسته له سروې توزیع کړل شوه.

د مرستې د توزیع په مهال د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست رئیس مولوی فیض الله جلالی کډوالو او زیاتمنو کورنیو ته وویل، موږ تل هڅه کوو چې د طبیعی او غیری طبیعی پېښو له امله زیاتمنو کورنیو ترڅنګ د کډوالو کورنیو هم لاس نیوۍ وکړو او په راتلونکی کې به ورته د لا زیاتو مرستو زمینه برابره شي.

د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۳ زیاڼمنو کورنیو ته نغدې مرستې وویشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د ډنمارک د کډوالو شورا (DRC) ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې شورا په ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۸ نېټه د ماین او ناچاوده توکو د چاودنې له امله ۱۳ زیاڼمنو کورنیو ته نغدې مرستې وویشلې.
په دې لړۍ کې له سروې وروسته هرې کورنۍ ته د هغوی زیاڼمنتیا ته په کتو له ۸,۰۰۰ نه تر ۳۱,۰۰۰ افغانۍ وویشل شوې، چې ټولټال یو سل او شپږ اتیا زره او پنځه سوه (۱۸۶,۵۰۰) افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۰۰ مستحقو کورنیو ته خوراکي مرستې وویشلې

د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت د مرکز په بېلا بېلو ناحیو کې ۳۰۰ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۹ نېټه خوراکي مرستې وویشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې د ۱۰ کیلو غوښې کنسر وویشل شول.
د یادونې وړ ده چې دا بهیر د یاد ولایت په کچه روان دی.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کندز برای ۳۴۹۱ خانواده مستحق مساعدت غذایی انجام داد

بر اساس تفاهم‌نامه اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با موسسه ASIO که تمویل کننده پروژه آن برنامه غذایی جهان(WFP) می باشد، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کندز، برای ۳۴۹۱ خانواده در ولسوالی علی‌آباد و قلعه ذال، پس از سروی، بتاریخ ۸ جمادی الآخر سال ۱۴۴۷ هـ ق مساعدت غذایی توزیع کرد.
در این روند، در حضور مسوولان محلی، برای ۱۵۳۶ خانواده در ولسوالی قلعه‌ذال و برای ۱۹۵۵ خانواده در ولسوالی علی‌آباد، به هر یک ۵۰ کیلو آرد، ۵ لیتر روغن، ۶.۲۵ کیلو دال، نیم کیلو نمک، سه کیلو سوپر سریال و یک و نیم کیلو پلمپی توزیع شد.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فراه برای ۸۸۲ خانواده مستحق و مهاجرین اخراج اجباری مساعدت نقدی توزیع کرد

بر اساس تفاهم‌نامه اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با موسسه رازی، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فراه، برای ۸۸۲ خانواده مستحق و مهاجرین اخراج اجباری از کشور های همسایه در ولسوالی های جوین و خاک سفید، بتاریخ ۱۰ جمادی الآخر سال ۱۴۴۷ هـ ق با حمایت موسسه مذکور مساعدت نقدی توزیع کرد.
در این روند برای ۳۵۰ خانواده در ولسوالی جوین و ۵۳۲ خانواده در ولسوالی خاک سفید به هر خانواده مبلغ ۸۰ دالر معادل آن به افغانی توزیع شد که در مجموع مبلغ ۷۰۵۶۰ دالر که معادل آن مبلغ چهارمیلیون و شش‌صد و هشتاد و یک هزار و سه‌صد و بیست (۴۶۸۱۳۲۰) افغانی می‌شود برای این تعداد خانواده ها پرداخت شد.

د ننګرهار ولایت له پښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۶۶ مستحقو کورنیو ته نغدي مرستې وویشلې

له پښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د RRAA موسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د ننګرهار ولایت له پښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په ملاتړ، په کوزکونړ ولسوالۍ کې ۲۶۶ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۰ نېټه خوراکي مرستې وویشلې.
په دې لړۍ کې ۲۲۴ کورنیو ته د بېلابېلو اړتیاوو پوره کولو لپاره هرې کورنۍ ته ۱۱,۰۰۰ افغانۍ او ۴۲ کورنیو هرې یوې ته د تشنابونو د ترمیم لپاره ۳,۸۰۰ افغانۍ وویشل شوې، چې ټولټال دوه میلیونه او شپږ سوه درې ویشت زره او شپږ سوه (۲,۶۲۳,۶۰۰) افغانۍ نغدې پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت نورستان برای ۱۸۰ خانواده سه قلم مواد غیرغذایی مورد نیاز اولیه توزیع کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت نورستان در هماهنگی با مؤسسهٔ OCHRO در ولسوالی وایگل آن ولایت بتاریخ ۱۰ جمادی الآخر سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۱۸۰ خانواده کمک‌های غیر غذایی توزیع کرد.
در این روند برای هر خانواده ۱۲ عدد صابون، وسیله تصفیه آب و یک عدد چمچه توزیع گردید.

د غزني ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۹۵ زیانمنو کورنیو ته خوراکي مرستې وویشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري د لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د لارښوونې پر بنسټ، د غزني ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په یاد ولایت کې د ګډې کمېټې له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۰ نېټه ۹۵ زیانمنو او مستحقو کورنیو ته خوراکي مرستې وویشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه، نیم کیلو چای او ۵ کیلو بوره وویشل شوه.

د غزني ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، محترم مولوي حمدالله بشیر د یادو کورنیو سره د خواخوږي په څرګندولو سره وویل چې د همکارو موسسو له لارې د لا زیاتو مرستو د وړاندې کولو لپاره هڅې روانې دي.

ورته مهال د دې مرستو ترلاسه کوونکو د یاد ریاست دا کار وستایه او د مسؤلینو له لپاره یې د خیر دعا وکړه.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت میدان وردگ به منظور جلوگیری از خطرات احتمالی آتش سوزی در میدان شهر برنامه آگاهی عامه دایر کرد

به رهبری ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت میدان‌وردک، در مرکز آن ولایت در بازار میدان‌شهر، به منظور کاهش و جلوگیری از خطرات احتمالی ناشی از آتش‌سوزی، بتاریخ ۱۰ جمادی الآخر سال ۱۴۴۷ هـ ق آگاهی‌دهی عامه از سوی اعضای کمیتهٔ دایمی آتش سوزی ارایه شد.

هدف این آگاهی‌دهی عامه، ارائه رهنمودها و سپارش‌های لازم به دکانداران در مرکز ولایت میدان‌وردک در بازار میدان‌شهر، به منظور کاهش و جلوگیری از خطرات احتمالی بود تا در آینده در کاهش رویدادهای آتش‌سوزی کمک شود.

کمیتهٔ دایمی آتش‌سوزی که از واحدهای مختلف ادارات آن ولایت تشکیل شده و رهبری آن بر عهده مدیر وقایه و کاهش خطرات ریاست آمادگی مبارزه با حوادث است، به صورت دوامدار از پمپ استیشن‌های غیرمعیاری، مارکیت‌ها و دکان‌ها در سطح ولایت نظارت انجام خواهد داد.

د غور ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۵ کورنیو ته خوراکي مرستې وویشلې

د غور ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ولایت مقام په لارښوونه، د دې ولایت اړوند ۵۵ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۰ نېټه خوراکي مرستې وویشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته یوه بورۍ غنم، یوه بورۍ وریجې او ۳ کیلو غوښه وویشل شوه.

په بغلان ولایت کې د پلچک او کانال جوړولو کار بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شول

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري د لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د لارښوونې پر بنسټ د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په ډنډې غوري ولسوالۍ کې د بغلان او مزار شریف په عمومي سړک د خواجه الوان په سیمه کې د ۱۴ متره په اوږدوالي، ۲.۹۰ متره په لوړوالي، د ۳.۹۰ متره په پلنوالي او د یو میلیون (۱,۰۰۰,۰۰۰) افغانیو په لګښت د یو پلچک او همدارنګه د ۱,۲۲۰ متره په اوږدوالي، ۶ متره په پلنوالي او د نه سوه پنځوس زره (۹۵۰,۰۰۰) افغانیو په لګښت د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۰ نېټه د یو کانال جوړولو کار بشپړ کړ او رسمآ یې ګټې اخیستنې ته وسپارل.

د پروژې د پرانیستې په مراسمو کې د بغلان ولایت د مقام مرستیال، محترم الحاج ملا محمد همایون جهادیار، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، محترم مولوي هدایت الله همدرد او یو شمېر نورو سیمه ییزو مسؤلینو ګډون وکړ.

د یادونې وړ ده چې پخوا په دې سیمه کې ګڼ شمېر هستوګنیز کورونه او کرنیزې ځمکې د سېلاب له خطر سره مخ وې، چې د دې پروژې په بشپړېدو سره د سیمې د اوسېدونکو کورونه او کرنیزې ځمکې د سېلاب له احتمالي خطر څخه خوندي کړل شول.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ننگرهار برای ۹۲ خانوادۀ آسیب‌دیده کمک نقدی توزیع کرد

بر اساس تفاهم‌نامه امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه RRAA، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ننگرهار با همکاری مالی این مؤسسه، بتاریخ ۱۱ جمادی الآخر سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۹۲ خانوادۀ آسیب‌دیده در ولسوالی سرخرود کمک نقدی توزیع کرد.

این کمک‌ها پس از سروی و با هدف ترمیم تشناب‌های آسیب‌دیده توزیع شده است. در این روند، برای هر خانواده ۳,۸۰۰ افغانی توزیع گردید که مجموع این کمک‌ها به سه‌صد و چهل و نه‌هزار و شش صد(۳۴۹,۶۰۰) افغانی می‌رسد.

د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۴۵۷ مستحقو کورنیو ته خوراکي مرستې وویشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د افغان ځوانانو خدماتي موسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په دره پیچ ولسوالۍ کې ۴۵۷ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۱ نېټه خوراکي مرستې وویشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې د درېیم او څلورم پړاو په توګه ۱۰۰ کیلو اوړه، ۵ لیتره غوړي، ۸ کیلو دال او یو کیلو مالګه وویشل شوه.

په ارزګان ولایت کې د خاص ارزګان او چوري ولسوالیو ترمنځ د لارې د بیا رغونې چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري د لوي رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین د لارښوونې پر بنسټ، د ارزګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د خاص ارزګان او چوري ولسوالیو ترمنځ د کوشادکوتله لارې د بیارغونې کار د درې سوه درې پنځوس (۳۵۳,۰۰۰) افغانیو په لګښت د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۱ نېټه بشپړ کړ او رسمآ یې ګټې اخیستنې ته وسپارله.

د لارې په جوړېدو سره د خلکو د تګ راتګ ستونزې حل شوې او د مرستو د رسولو په برخه کې به اسانتاوې رامنځته شي.

د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له لوري ۲۶۳ بیوزلو کورنیو ته خوراکي مرستې وویشلې شوې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري د مقام د لاسلیک سوې تفاهم نامې له مخې د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست سره په همکارۍ، د افغان ځوانانو خدماتي موسسې یا (AYSO) لخوا د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۱ نېټه د کونړ ولایت د چپې درې ولسوالۍ په مختلفو کلیو کې انتخاب شوې ۲۶۳ بیوزله کورنیو ته د دریم او څلورم ځل لپاره په یو ځای خوراکي توکي وویشل.

په یاده مرسته کې هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلوګرام اوړه، ۶ لیتره غوړې، ۸ کیلو ګرام دال او ۱ کیلو ګرام مالګه ورته وویشل شوه.

دیادو مرستو تر لاس کونکوو د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه مننه وکړه او خوښې څرګنده کړه.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لوگر برای ۶۰۰ خانوادۀ آسیب‌دیده مواد غذایی توزیع کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لوگر در ولسوالی ازره بتاریخ ۱۱ جمادی الآخر سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۶۰۰ خانوادۀ آسیب‌دیده از خشکسالی مواد خوراکی توزیع نمود.

این خانواده‌ها قبلاً سروی انجام شده بودند تا کمک‌ها به‌موقع، شفاف و عادلانه به مستحقان برسد. امروز برای هر خانواده ۵۰ کیلو گندم، که مجموعاً به ۳۰,۰۰۰ کیلو می‌رسد، توزیع شد.

دارزګان ولایت له پېښو سره د مبارزې امادګۍ ریاست له لوري په مرکز ترینکوټ کې ۲۵ زیانمنو کورنیو ته نغدي مرستې وویشلې شوې

د ارزګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست سره په همکارۍ، د DHSA موسسې لخوا د مرکز ترینکوټ په خانقه سیمه کې د هغو زیانمنو کورنیو لپاره چې خوني یې نړېدلي وې، د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۱ نېټه نغدي مرستې وویشل شوې.

په دې بهیر کې، ۲۵ کورنۍ شاملې وې چې هري کورنۍ ته ۱۸,۱۹۰ افغانۍ ورکړل شوې، څو له دې لارې وکولای شي خپل استوګنځي ترمیم او د ژمي له سختو شرایطو سره مبارزه وکړي.

د یادو مرستو وېشل د اقتصاد ریاست او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د استازو په حضور کې ترسره شول، تر څو شفافیت، ترتیب او د اړتیا پر اساس د مرستو وېش یقیني شي.

خلکو له دې مرستو خوښي وښوده او د اړوندو ادارو څخه یې مننه وکړه.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت غور برای ۴۰ خانواده بیجاه‌شده داخلی مساعدت غذایی توزیع کرد

بر اساس هدایت مقام محترم ولایت غور، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت غور، برای ۴۰ خانواده بیجاه‌شده از ولسوالی جوند ولایت بادغیس به ولایت غور، بتاریخ ۱۲ جمادی الآخر سال ۱۴۴۷ هـ ق مساعدت غذایی توزیع کرد. در این روند برای هر خانواده مقدار یک بوری گندم، یک بوری برنج و سه کیلو گوشت توزیع گردید.

د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ۱,۷۰۱ زیانمنو کورنیو لپاره د خوراکي مرستو د وېش بهیر پیل کړ

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د افغان ځوانانو دفتر (AYSO) ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالي ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۲ نېټه په مرکز قلعه نو کې ۱,۷۰۱ زیانمنو او اړمنو کورنیو ته د دویم او دریم پړاو د مرستو د وېش بهیر پیل کړ.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې له سروې وروسته، هرې کورنۍ ته دوه بورۍ ۵۰ کیلویي اوړه، ۸ لیتره غوړي، ۸ کیلو دال او یو کیلو مالګه وویشل شوه.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بغلان برای ۳۰۰۷ خانواده مستحق مساعدت نقدی و غذایی توزیع کرد

بر اساس تفاهم‌نامه اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با بنیاد آغا خان برای اسکان و موسسه ASIO که تمویل کننده پروژه آن برنامه جهانی غذا(WFP) می‌باشد، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بغلان برای ۳۰۰۷ خانواده متضرر و مستحق در ولسوالی‌های بغلان مرکزی و بورکه، بتاریخ ۱۲ جمادی الآخر سال ۱۴۴۷ هـ ق مساعدت نقدی و غذایی توزیع کرد.

در این روند، برای ۲۶۹۲ خانواده در ولسوالی بورکه از سوی موسسه ASIO، به هر خانواده به عنوان مرحله دوم، ۵۰ کیلو آرد، ۴.۵۵ لیتر روغن، ۶.۲۵ کیلو دال، نیم کیلو نمک، ۳ کیلو سوپرسریال و یک‌ونیم کیلو پلمپی و برای ۳۱۵ خانواده از سوی بنیاد آغاخان برای اسکان در ولسوالی بغلان مرکزی، به هر خانواده مبلغ ۴۳۵۰ افغانی توزیع شد که در مجموع کمک نقدی انجام شده برای آنان مبلغ یک‌میلیون و سه‌صد و هفتادهزار و دوصد و پنجاه(۱,۳۷۰,۲۵۰) افغانی می‌باشد.

د سرپل ولایت له پښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲,۰۱۶ زیانمنو کورنیو ته خوراکي توکي ووېشل

له پښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د ماهو موسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، چې د پروژې تمویل کوونکی یې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) دی، د سرپل ولایت له پښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲,۰۱۶ کورنیو ته چې په بلخاب ولسوالۍ کې د طبیعي او غیرطبیعي پېښو له امله زیانمنې شوې وې، له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۲ نېټه خوراکي توکو کڅوړې ووېشل شوې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې ۱,۲۳۲ زیانمنو کورنیو هرې یوې ته ۵۰ کیلو اوړه، ۵ لیتره غوړي، ۶.۳ کیلو دال، نیم کیلو مالګه او ۷۸۴ نورو کورنیو هرې یوې ته په یو ځل د درې پړاوونو مرستې په توګه ۳ بورۍ ۵۰ کیلویي اوړه، ۱۵ لیتره غوړي، ۱۸.۹ کیلو دال او یو نیم کیلو مالګه ووېشل شوه.

د یادونې وړ ده، چې په پای کې د مرستو ترلاسه کوونکو له پښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او یادې موسسې څخه د مننې ترڅنګ د مرستو د دوام غوښتونکي شول.

د بامیان ولایت له پښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۵۰ کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې

د بامیان ولایت له پښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له خپلو امکاناتو څخه په ګټې اخیستنې سره او د یونیسف سازمان، د دې ولایت د یکاولنګ ۲ ولسوالۍ اړوند ۱۵۰ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۳ نېټه خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته دوه بورۍ ۵۰ کیلویي غنم، یوه بورۍ ۲۵ کیلویي وریجې، د ژمنۍ البسې ۱ کېټ او له یاد شمېر کورنیو څخه ۹۰ کورنیو هرې یوې ته د یادو توکو سربېره یو روغتیایي کېټ هم ووېشل شو.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر برای ۱۱۰ خانواده مستحق در ولسوالی رخه مساعدت خوراکی توزیع کرد

بر اساس فیصله کمیسیون ولایتی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر و هدایت محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث آن ولایت، بتاریخ ۱۲ جمادی الآخر سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۱۱۰ خانواده مستحق در ولسوالی رخه مساعدت خوراکی توزیع کرد.

در این روند پس از سروی، برای هر خانواده یک بوری آرد، پنج کیلو بوره و نیم کیلو چای در حضور مسوولان محلی توزیع شد.

د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په خرم سارباغ ولسوالۍ کې ۳۱۵ مستحقو کورنیو ته نغدي مرستې وویشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د هستوګنې لپاره د آغاخان بنسټ ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په خرم سارباغ ولسوالۍ کې ۳۱۵ مستحقو کورنیو له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۲ نېټه نغدي مرستې وویشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د سیمه ییزو مسؤلینو او مشرانو په شتون کې ۴,۳۵۰ افغانۍ وویشل شوې، چې ټولټال یو میلیون او درې سوه اویا زره او دوه سوه پنځوس (۱,۳۷۰,۲۵۰) افغانۍ نغدي پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

د هرات ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۶,۳۳۷ مستحقو کورنیو ته نغدي مرستې وویشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د RSDO موسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، چې د پروژې تمویل کوونکی یې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) دی، د هرات ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د هرات ښار د دویمې، لسمې او څوارلسمې ناحیې اړوند ۶,۳۳۷ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۲ نېټه نغدي مرستې وویشلې.

دا بهیر چې د لسو ورځو په ترڅ کې ترسره شو، هرې کورنۍ ته ۲,۹۰۰ افغانۍ وویشل شوې، چې له یاد شمېر کورنیو سره د مرسته شویو نغدو مرستو مجموع ټولټال اتلس میلیونه او درې سوه اووه اویا زره او درې سوه (۱۸,۳۷۷,۳۰۰) افغانیو ته رسېږي.

د کابل ولایت له پېښو د مبارزې آمادګۍ ریاست په ده سبز، خاکجبار او موسهي ولسوالیو کي ۳۳ کورنیو ته د کور جوړونې او بیارغونې لپاره نغدي مرستې وویشلې

د کابل له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په همغږۍ د افغانستان لپاره د بشري خدمتونو او پرمختګ موسسې په مالي ملاتړ د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۲ نېټه د دې ولایت په ده سبز، خاکجبار او موسهي ولسوالیو کي له ۳۳ کورنیو سره د کور جوړونې او د بیارغونې لپاره نغدي مرستې وشوې.

د افغانستان لپاره د بشري خدمتونو او پرمختګ مؤسسې له خواه هرې کورنۍ ته چې مخکې یې د سروې پروسه د دې ریاست په همغږۍ ترسره شوې وه د کور جوړونې په برخه کې د ده سبز، خاکجبار او موسهي ولسوالیو ۱۶ کورنیو ته د دویم قسط (۶۶۴۵۰) افغانۍ او د یادو ولسوالیو ۱۷ کورنیو ته د کورونو بیارغونې په برخه کې د دویم قسط (۱۸۲۵۰) افغانۍ نغدي مرسته ترسره شوه چې ټول ټال(۱۳۷۳۴۵۰) افغانۍ د یادو کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

د یادونې وړ ده چې یادې نغدي مرستې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د مقام او مؤسسې تر منځ د لاسلیک شوي تفاهم نامې په اساس تر سره شوې.

همدا راز د مرستو ترلاسه کوونکو د مرستندویه مؤسسې او د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه مننه وکړه او خپله خوښي څرګنده کړه او د دې نظام د بقا دعایې وکړه.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کنر برای ۱۹۹ خانواده کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع کرد

بر اساس تفاهم‌نامۀ امضاشده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه خدماتی جوانان افغان (AYSO)، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کنر با همکاری این مؤسسه، پس از انجام سروې و شناسایی مستحقین، بتاریخ ۱۳ جمادی الآخر سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۱۹۹ خانواده از مربوطات ولسوالی‌های مختلف آن ولایت و شهر اسعدآباد مرکز کنر، کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع کرد.

در این روند، برای ۱۵۳ خانواده، به هر خانواده ۱۰۰ کیلو آرد، ۶ لیتر روغن، ۸ کیلو دال، ۱ کیلو نمک توزیع شد. همچنان برای ۴۶ خانواده دیگر، به هر خانواده ۵۰ کیلو گندم، ۵۰ کیلو برنج، یک بسته مواد زمستانی، یک بسته وسایل آشپزخانه و دو تخته کمپل توزیع گردید.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت دایکندی برای ۳۰ خانواده کمک‌های خوراکی توزیع کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت دایکندی، برای ۳۰ خانواده آسیب‌دیده از خشکسالی و آتش‌سوزی در مرکز نیلی آن ولایت، پس از سروی، بتاریخ ۱۳ جمادی الآخر سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک‌های خوراکی توزیع نمود.

در این روند با حضور مسئولان، به هر خانواده یک بوری ۵۰ کیلویی آرد، ۵ کیلو بوره و نیم کیلو چای توزیع شد.

د جوزجان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲,۷۲۹ مستحقو کورنیو ته نغدې مرستې وویشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د SFL موسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د جوزجان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په تخنیکي همکارۍ او د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) مالي ملاتړ، په شبرغان ښار کې ۲,۷۲۹ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۳ نېټه نغدې مرستې وویشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۲,۹۰۰ افغانۍ وویشل شوې، چې ټولټال اووه میلیونه او نه سوه څوارلس زره او سل (۷,۹۱۴,۱۰۰) افغانۍ نغدې پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

د یادونې وړ ده، چې په پای کې د مرستو ترلاسه کوونکو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او یادې موسسې څخه مننه وکړه او د مرستو د دوام غوښتنه یې وکړه.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان برای ۳۶ خانوادۀ آسیب‌دیده مواد غذایی توزیع کرد

به اساس تفاهم‌نامۀ امضاشده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه RRDPO، که تمویل‌کنندۀ پروژه آن برنامه جهانی غذا (WFP) می‌باشد، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت لغمان با همکاری مؤسسه متذکره، برای ۳۶ خانوادۀ آسیب‌دیده در ولسوالی های دولت‌شاه، قرغه‌یی، علیشنگ، علینگار و مرکز مهترلام، بتاریخ ۱۳ جمادی الآخر سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک‌های غذایی توزیع نمود.

این کمک که برای دومین بار به این خانواده‌ها صورت می‌گیرد، در حضور مسئولان توزیع شد که به هر خانواده ۱۰۰ کیلو آرد، ۹,۱ کیلو روغن، ۱۲,۵ کیلو دال، ۱ کیلو نمک، سوپر سریال و مواد حلوا مغزی توزیع گردید.

د نورستان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۱۲ کورنیو ته د حفظ الصحې کېټونه وویشل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د OCHR موسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د نورستان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد موسسې په ملاتړ، د دې ولایت په وایګل ولسوالۍ کې د کور سرپرست کونډو مېرمنو او نورو مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۳ نېټه د حفظ الصحې کېټونه وویشل.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې د حفظ الصحې یو کېټ چې، ۱ عدد لاسي څراغ، ۱ عدد د اوبو سطل، یو نیم کیلو د جامو منځلو پوډر، د اوبو د ذخیره کولو لپاره ۲ عدد پلاستیکي بوشکې، ۲ عدده ټوکرۍ، ۵ بستې پمپر، ۹ عدد زیرپوښ، ۱۲ کلچې د لاس منځلو صابون، ۱ لیټر شامپو، د غاښونو د پاکولو وسایل، د ماشومانو پمپر، د اوبو د تصفیې لپاره د کلورین ټابلیټونه او د روغتیا په اړه د پوهاوي بروشر په کې شامل وو، یاد شمېر کورنیو ته وویشل شول.

د ارزګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۱ زیانمنو کورنیو ته د خونو جوړولو او ترمیم لپاره نغدي مرستې وویشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د DHSA موسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د ارزګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالي ملاتړ، د دې ولایت په دهراوود ولسوالۍ کې ۳۱ زیانمنو کورنیو ته چې د کورونو خونې یې د طبیعي پېښو له امله په نیمه او بشپړ ډول ویجاړې شوې وې، د خونو جوړولو او ترمیم لپاره د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۳ نېټه نغدي مرستې وویشلې.

په دې لړۍ کې ۹ کورنیو هرې یوې ته د خونې جوړولې لپاره ۶۶,۲۵۰ افغانۍ او ۲۲ کورنیو هرې یوې ته د خونې د ترمیم لپاره ۱۸,۱۹۰ افغانۍ وویشل شوې، چې ټولټال نه سوه شپږ نوي زره او څلور سوه دېرش (۹۹۶,۴۳۰) افغانۍ نغدي پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

له مرستو څخه برخه منو کورنیو له دې مرستو څخه خوښې وښوده او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او DHSA موسسې څخه یې مننه او قدرداني وکړه.

په پروان ولایت کې ناچاوده توکي کشف او خنثی شول

د پروان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د همغږۍ پر بنسټ د هلوټرسټ ماین پاکۍ نړیوالې موسسې HT QR EORE 02 تخنیکي ټیم د یاد ولایت د سیاه ګرد ولسوالۍ د دارالمعلمین په غونډۍ کې د اوسپنو د پلورنځایونو د څېړنې پر مهال د توپچي ۱۵۲ mm ډول ناچاوده توکي د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۳ نېټه کشف او په خوندي ډول له منځه یووړل.

د یادونې وړ ده، چې په یاد ولایت کې د ناچاوده توکو د موندلو بهیر په چټکۍ سره روان دی او د یاد ریاست مسؤلینو له خلکو وغوښتل چې د هر ډول ناچاوده توکو د لیدو په صورت کې دې له مسؤلینو سره اړیکه ونیسي ترڅو د اړین اقدامات ترسره شي.

عامه پیغامونه :

30. په یووالي سره د اوبو د مهارولو لپاره کوچني کوچني بندونه جوړ کړئ، ترڅو د وچکالۍ له خطر څخه ځان وژغورئ
31. د تړل شویو لارو خلاصول او د ولس له مخې خنډونه لرې کول د ایمان یوه برخه ده
32. د جګړه ځپلو لاسنیوی وکړئ ترڅو هغوی د جګړو له امله خپل ویجاړ شوي کورونه او جایدادونه بیا ورغوي
33. خپل باغونه او کروندې په منظم ډول په دوا پاشلو سره د ملخانو او نورو حشراتو له مرضونو څخه وژغورئ